# کولسیانو ته د پولوس رسول لیک

## د کتاب پېژندنه

دا کولسیانو ته یو لیک دی چې پولوس رسول هغه وخت لیکلی دی چې په زندان کې ؤ. کولسیه د کوچنۍ اسیا د ښارونو څخه یو ښار دی چې په اوسنۍ ترکیه کې د افسیس د ښار په ختیځ کې پروت دی. دا لیک د پولوس له خوا کولسیې ته د تیخیکاس او اونیسیموس په لاس یووړل شو. اونیسیموس چې د دې لیک په اخره کې ورڅخه یادونه شوې ده، هغه غلام دی چې پولوس د هغه په خاطر د هغه بادار فیلیمون ته د دې لیک سره یو بل لیک هم ولیکه. په دې لیک کې په دې باندې ټینګار شوی دی چې اوس په مسیح کې غلامان او باداران یو د بل سره ورونه ګڼل کیږي.

دا کلیسا د پولوس له خوا نه وه جوړه شوې، خو دا کلیسا په هغې سیمې کې وه چې پولوس د هغې په اړه د مسوولیت احساس کاوه. نو له دې امله هغه د افسیس نه چې د روم د یو ولایت مرکز ؤ، د کلیسا ځینې استاذان هلته ولیږل. په دې ښار کې د ایماندارانو په منځ کې د عیسی مسیح د ربښتیني شخصیت په هکله یو سوال پیدا شوی ؤ. هغه سوال دا ؤ چې ایا مسیح یوازې یو انسان ؤ او که همدارنګه خدایي شخصیت هم ؤ؟ هو، هغه د انسان والي ترڅنګ خدایي فطرت هم درلود. پولوس په دې باندې زیات ټینګار کاوه چې عیسی مسیح څنګه په ټولو روحاني قوتونو او ټولو انساني قوانینو او اصولو باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واک او اختیار لري.

پولوس خبر شوی ؤ چې د کولسيې په ایماندارانو کې ځینې داسې استاذان شته چې غلط تعلیم ورکوي. هغوی په دې باندې ټینګار کاوه چې د خدای پېژندلو او پوره خلاصون دپاره باید خلک د فرښتو عبادت وکړي. برسېره پردې هغوی به ویل چې باید ځانګړو مذهبي دودونو لکه سنتولو ته غاړه کېږدي او باید د خوړو او نورو شیانو په هکله سخت قوانین او مقررات مراعت کړي.

پولوس د یو رښتیني مسیحي پیغام سره د دې تعلیمونو په خلاف لیکي. د دې ځواب مهم او اصلي ټکی دا دی چې عیسی مسیح کولای شي پوره خلاصون ورکړي او نورې عقیدې او کارونه په حقیقت کې انسان د مسیح نه لرې کوي. خدای د عیسی مسیح په وسیله دنیا پیدا کړه او د هماغه په وسیله تاسو بېرته د خپل ځان سره پخلا کوي. یوازې د مسیح سره په یووالي کې د ټولو خلکو دپاره د خلاصون هیله شته. پولوس د خلکو نه په ټینګه غوښتنه کوي چې په خپل ژوند کې د ګناه په ضد جنګ وکړي، ترڅو پاک او سپېڅلي پاتې شي او د رښتینو ایماندارانو د کورنیو په توګه ژوند وکړي.

## د موضوعګانو لست:

سلامونه او د شکرګزارۍ دعا: ۱:۱–۸
د عیسی شخصیت او کار: ۱:۱۵ – ۲:۱۹
د انسان زوړ فطرت او په مسیح کې نوی فطرت: ۲:۲۰ – ۴:۶
وروستني سلامونه او نصیحت: ۴:۷–۱۸

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ ١ دا لیک د پولوس له خوا چې د خدای په ارادې سره د
عیسی مسیح رسول دی او زمونږ د ورور تیموتاوس له خوا، ٢ په
مسیح کې د خدای خلکو او هغو وفادارو خویندو او ورونو ته چې په
کولسیه کې دي. زمونږ د پلار خدای فضل او سلامتي دې وي په
تاسو باندې.

## د شکرګزارۍ دعا

٣ کله چې مونږ ستاسو دپاره دعا کوو، نو تل زمونږ د څښتن
عیسی مسیح د پلار یعنې خدای شکر کوو. ٤ ځکه چې مونږ خبر
شولو چې تاسو په عیسی مسیح ایمان لرئ او د خدای د ټولو خلکو
سره مینه کوئ. ٥ ستاسو دا ایمان او مینه د هغې هیلې څخه
راپیدا کیږي چې په اسمان کې ستاسو دپاره ساتل شوې ده. تاسو د
مخکې نه په دې هکله په رښتیني پیغام یعنې زیري کې اورېدلي وو.
٦ لکه څنګه چې دا زیری تاسو ته دررسېد، نو همداسې ټولې
نړۍ ته رسیږي او حاصل ورکوي. د هماغې ورځې نه چې تاسو خبر
شوئ او د خدای د فضل په هکله په رښتیا سره پوه شوئ، نو په
تاسو کې یې هم حاصل ورکړ. ٧ تاسو د خدای د فضل په هکله
د اپفراس څخه چې په خدمت کې زمونږ ملګری دی، زده کړل. هغه
ستاسو دپاره د مسیح وفادار خدمتګار دی. ٨ هغه مونږ ستاسو د
هغې مینې څخه خبر کړو چې روح القدس تاسو ته درکړې ده.

٩ له همدې امله د هماغې ورځې نه مو چې دا واورېدل، نو
ستاسو دپاره مو تل دعا کړې ده. مونږ د خدای څخه غواړو چې
تاسو په خپله اراده په پوره توګه پوه کړي، ترڅو تاسو هغه ټول

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حکمت او پوهه ولرئ چې د هغه روح يې درکوي، ۱۰ ترڅو داسې
ژوند وکړئ لکه څنګه چې څښتن يې غواړي او هغه په هرڅه کې
خوشحاله کړئ او په هر نېک کار کې ثمره ولرئ او د خدای په
پېژندلو کې وده وکړئ. ۱۱ همدارنګه زمونږ دا دعا ده چې د هغه د
جلال نه ډک قدرت سره قوي شئ، ترڅو په صبر سره هرڅه وزغمئ
۱۲ او په خوشحالۍ سره د پلار خدای شکر وباسئ چې تاسو يې
د دې لايق کړي يئ چې د خپلو خلکو سره يې د رڼا د پاچاهۍ په
ميراث کې شريک کړئ. ۱۳ هغه مونږ د تيارې د پاچاهۍ نه ازاد
کړو او د خپل ګران زوی پاچاهۍ ته يې راوستلو. ۱۴ د هغه په
وسيله مونږ خلاصون وموند او زمونږ ګناهونه وبخښل شول.

## د عيسی شخصيت او کار

۱۵ مسيح د نه‌ليدونکي خدای تصوير او د ټولو مخلوقاتو نه لومړی
زېږېدلی دی يعنې لوړ مقام لري. ۱۶ ځکه چې د هغه په وسيله
ټول شيان پيدا شول، که هغه په اسمان کې دي يا په ځمکه، ليدونکي
دي يا نه‌ليدونکي، که هغه د پاچاهۍ تختونه دي که روحاني قدرتونه
دي يا حاکمان يا د واک خاوندان، ټول شيان د هغه په وسيله او د
هغه دپاره پيدا شول. ۱۷ هغه د ټولو شيانو نه مخکې وجود درلود
او په هغه کې ټول شيان سره يوځای کيږي. ۱۸ د دې ترڅنګ هغه
د بدن سر يعنې د کليسا سر دی، هغه پيل دی، هغه لومړی زېږېدلی
دی چې د مړو نه راپاڅېد، ترڅو په هرڅه کې لومړی ځای ولري.
۱۹ ځکه چې دا د خدای خوښه وه چې زوی دې په خپل ځان کې
د خدای کامل فطرت او خوی ولري. ۲۰ خدای د مسيح په وسيله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ټولو شیانو سره پخلا شو او په صلیب باندې د مسیح د وینې د
تویېدلو په وسیله یې د خدای او هغه څه چې په ځمکه او اسمان کې
دي، ترمنځ سوله راوستله.

٢١ یو وخت تاسو د خدای نه لېرې وئ او د خپلو فکرونو او بدو
عملونو له امله د هغه دښمنان وئ. ٢٢ خو اوس هغه د مسیح د
جسماني مرګ په وسیله تاسو د خپل ځان سره پخلا کړئ، ترڅو
تاسو سپېڅلي، بېعیبه او بې له ملامتۍ څخه خپل حضور ته راولي.
٢٣ خو بې له شکه باید تاسو په ایمان کې قوي او ټینګ پاتې شئ
او هغه هیله پرېنږدئ چې د زېري په اورېدلو سره په ټوله دنیا کې
اعلان شوی دی او زه پولوس د همدې زېري خدمتګار شوم.

## د کلیسا د خدمتګار په توګه د پولوس کار

٢٤ زه اوس په هغو کړاوونو کې خوشحاله یم چې ستاسو په خاطر
یې تېروم، ځکه چې زه په خپل بدن کې د مسیح د بدن یعنې د کلیسا
په خاطر د مسیح د تکلیفونو هغه کمی پوره کوم چې لا تراوسه پاتې
دی. ٢٥ زه د هغې وظیفې له مخې چې خدای ستاسو په خاطر
ماته راکړې ده، د کلیسا خدمتګار شوم ترڅو د خدای کلام په پوره
توګه تاسو ته دررسوم، ٢٦ یعنې هغه راز چې د پېړیو او تېرو
نسلونو راهیسې پټ پاتې ؤ او اوس د خدای خلکو ته ښکاره شوی
دی. ٢٧ خدای غوښتل چې تاسو غیریهودیانو ته د دې جلال نه
ډکې شتمنۍ پټ راز ښکاره کړي او هغه راز دا دی چې مسیح په
تاسو کې اوسېږي او هغه د جلال هیله ده. ٢٨ مونږ د مسیح په
هکله ټولو ته وعظ کوو او په هغې ټولې پوهې سره چې مونږ یې لرو،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټولو ته خبرداری ورکوو او هر يو ته تعليم ورکوو، ترڅو هر يو په
روحاني لحاظ د بالغو خلکو په توګه په مسيح کې خدای ته وړاندې
کړو. ۲۹ د دې دپاره زه کار کوم او زحمت وباسم، ترڅو د هغه
لوی قدرت نه کار واخلم چې مسيح يې ماته راکوي او په ما کې کار
کوي.

۲ ۱ نو زه غواړم چې تاسو پوه شئ چې زه ستاسو دپاره او د
خدای د هغو خلکو دپاره چې په لاﺋوديکيه کې دي او د هغو ټولو
دپاره چې تراوسه پورې يې زما مخ نه دی ليدلی، څومره ډېر زحمت
وباسم، ۲ ترڅو هغوی زړور شي او د مينې په تار يو د بل سره
وګنډل شي او د ارزښت نه ډکې پوهې باندې پوره باور ولري او د
خدای په پټ راز چې خپله مسيح دی، پوه شي. ۳ په هغه کې د
حکمت او پوهې ټولې خزانې پټې دي.

۴ زه دا تاسو ته د دې دپاره وايم چې څوک مو په داسې دليلونو
باندې چې په ظاهره معقول ښکاري ونه غولوي. ۵ ځکه که څه
هم زه په جسماني توګه ستاسو نه لېرې يم، خو په روحاني توګه
ستاسو سره يم. زه خوشحاله يم چې تاسو وينم چې په خپل منځ کې
په څومره ښه نظم او ترتيب ژوند تېروئ او په مسيح باندې ستاسو
ايمان څومره قوي دی.

## په مسيح کې کامل ژوند

۶ نو لکه څنګه چې تاسو عيسی مسيح د خپل ښښتن په توګه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قبول کړ، نو د هغه سره په يووالي کې خپل ژوند کوئ. ۷ په هغه
کې خپلې ريښې وځغلوئ او په هغه باندې خپل ژوند جوړ کړئ. لکه
څنګه چې درته تعليم درکړل شوی دی، په خپل ايمان کې ټينګ
اوسئ او ډېره شکرګزاري کوئ.

۸ پام کوئ چې څوک مو په پوچو فلسفو سره چې خلک غولوي
راګېر نه کړي، ځکه چې دا د انساني رواجونو او د دې دنيا د بدو
روحاني قوتونو سره تړلي دي، نه د مسيح سره. ۹ ځکه چې
مسيح په انساني جسم کې د خدای کامل خوی او فطرت لري ۱۰
او تاسو هم په هغه کې چې د ټولو حکومتونو او د واک خاوندانو سر
دی، کامل شوي يئ.

۱۱ تاسو د مسيح سره په يووالي کې سنت شوئ، خو دا سنتېدل د
انسان په لاس نه دي شوي، بلکې مسيح تاسو په روحاني توګه سنت
کړئ، ترڅو ستاسو نفساني فطرت لېرې شي. ۱۲ کله چې تاسو د
تعميد غسل واخيست، نو د مسيح سره ښخ شوئ او ستاسو د ايمان
په وسيله د خدای په قدرت سره چې مسيح يې بېرته راژوندی کړ،
تاسو هم د هغه سره په روحاني توګه د مړو نه راپورته شوئ. ۱۳
تاسو يو وخت د خپلو سرغړونو او له دې امله چې په جسماني توګه
ناسنته وئ، مړه وئ نو بيا خدای تاسو د مسيح سره يوځای د مړو نه
راپورته کړئ او ستاسو ټول ګناهونه يې وبخښل. ۱۴ خدای هغه
ټول ثبت شوي تورونه چې د قانون څخه د نافرمانۍ له امله په مونږ
لګېدلي وو، پاک کړل. هغه يې په صليب باندې مېخ کړل او لېرې يې
کړل. ۱۵ مسيح حاکمان او د واک خاوندان بې‌وسلې کړل او هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې د ټولو په مخکې رسوا کړل او د صليب په وسيله په ټولو باندې
بريالی شو.

۱۶ نو له دې امله هېچا ته اجازه مه ورکوئ چې د خوراک څښاک
يا د اختر يا د نوې مياشتې او يا د سبت د ورځې د مراعت کولو په
هکله په تاسو حکم او قضاوت وکړي. ۱۷ دا شيان يوازې د هغه
حقيقت سيوری دی چې راتلونکی دی او دا حقيقت په خپله مسيح
دی. ۱۸ مه پرېږدئ چې څوک په ظاهري عاجزۍ او د فرښتو په
عبادت کولو سره تاسو د اجر او انعام د اخيستلو څخه بې‌برخې کړي.
داسې خلک د روياګانو د ليدلو په تفصيلي بيان او خپلو انساني
فکرونو سره بې‌ځايه غرور کوي. ۱۹ هغوی د مسيح سره چې د ټول
بدن سر دی، خپلې اړيکې پرېښې دي. د هغه په وسيله ټول بدن قوت
اخلي او ټول بندونه او پلې سره يوځای کېږي او لکه څنګه چې
خدای يې غواړي، هغه وده کوي.

## د مسيح سره مړ کېدل او بېرته را ژوندی کېدل

۲۰ کله چې تاسو د مسيح سره مړه شوئ، نو د دې دنيا د بدو
روحاني قدرتونو څخه هم ازاد شوئ، نو بيا ولې داسې ژوند تېروئ
چې ګواکې اوس هم د دنيا سره تړاو لرئ؟ ولې داسې مقرراتو ته
غاړه ږدئ لکه څنګه چې هغوی وايي: ۲۱ «دا په لاس کې مه
اخلئ، دا مه څکئ، دې ته لاس مه وروړئ؟» ۲۲ کله چې دا ټول
شيان وکارول شي نو له منځه ځي، ځکه چې دا يوازې انساني
حکمونه او تعليمونه دي. ۲۳ که څه هم دا شيان په هغو عبادتونو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې چې هغوی په خپلو ځانونو باندې منلي دي او ظاهري عاجزي او
په ځان سختي راوستل په ظاهره معقول ښکاري، خو په حقیقت کې
دا شیان نه شي کولای چې د نفساني غوښتنو مخه ونیسي.

**۳** ۱ نو ځنګه چې تاسو د مسیح سره په روحاني توګه راژوندي
شوي یئ، بیا د هغو شیانو په لټه کې اوسئ چې په اسمان کې دي،
یعنې په هغه ځای کې چې مسیح د خدای ښي لاس ته ناست دی.
۲ د هغو شیانو په هکله فکر کوئ چې په اسمان کې دي، نه د
هغو شیانو په هکله چې په دنیا کې دي، ۳ ځکه چې تاسو مړه
شوي یئ او ستاسو ژوند د مسیح سره په خدای کې پټ دی. ۴
کله چې مسیح چې ستاسو ژوندون دی، راښکاره شي، نو تاسو به هم
د هغه سره په جلال کې ښکاره شئ.

## زوړ فطرت او نوی فطرت

۵ نو له دې امله دنیاوي غوښتنې لکه جنسي بداخلاقي، ناپاکي،
شهوت‌پرستي، بدې غوښتنې او حرص چې بت‌پرستي ده، په خپل
ځان کې له منځه یوسئ. ۶ د همدې شیانو له امله د خدای غضب
په هغو خلکو باندې نازلیږي چې نافرمانه وي. ۷ تاسو هم په
خپل تېر ژوند کې په همدې لارو تللئ.

۸ خو اوس تاسو باید د هر ډول قهر، غضب او بدی نه لاس
واخلئ او تهمت او بدې خبرې دې ستاسو د خولې نه راونه وځي.
۹ یو بل ته دروغ مه وایئ، ځکه چې تاسو خپل زوړ فطرت او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ټول بد عملونه د خپل وجود نه لېرې کړې دي. ١٠ تاسو د
نوي فطرت لباس اغوستی دی او نور هم زيات د خپل خالق په شان
شوي يئ چې هغه ښه وپېژنئ. ١١ نو بيا د غيريهودي او يهودي،
سنت شوي او ناسنته، وروسته پاتې او وحشي، غلام او ازاد ترمنځ
فرق نشته، بلکې مسيح هرڅه دی او په مونږ ټولو کې دی.

١٢ نو بيا تاسو چې د خدای غوره شوي يئ، سپېڅلي او په خدای
باندې ګران يئ، نو د زړه سواندی، مهربانی، عاجزی، نرمی او صبر
کالي واغوندئ. ١٣ يو بل وزغمئ او که چېرې د يو بل نه کومه
ګيله او شکايت لرئ، يو بل وبخښئ، لکه څنګه چې خښتن تاسو
بخښلي يئ نو همداسې تاسو يو بل وبخښئ. ١٤ د ټولو نه مهمه دا
ده چې يو بل سره ډېره مينه وکړئ، ځکه چې مينه هرڅه په پوره
يووالي کې يو د بل سره يوځای کوي. ١٥ نو پرېږدئ چې هغه
سوله او سلامتي چې د مسيح له خوا راځي، ستاسو په زړونو
حکومت وکړي، ځکه تاسو هر يو د مسيح د بدن غړي يئ او په دې
خاطر غوره شوي يئ، ترڅو يو د بل سره په سوله کې ژوند وکړئ او
شکرګزاره اوسئ. ١٦ پرېږدئ چې د مسيح کلام په پوره توګه په
تاسو کې اوسي. په ټول حکمت سره يو بل ته تعليم او نصيحت وکړئ
او د زړه له کومې خپلو زړونو کې په شکرګزاری سره خدای ته
زبورونه، مذهبي او روحاني سندرې ووايئ. ١٧ تاسو چې هرڅه
کوئ، که هغه خبرې وي يا کوم کار وي، نو ټول د خښتن عيسی په
نوم يې کوئ او د هغه په وسيله د پلار خدای شکر وباسئ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په کورنۍ کې د یو مسیحي مسوولیت

۱۸ ای ښځو، د خپلو میړونو تابعدارې اوسئ، ځکه چې د څښتن د
پیروانو په توګه دا کار تاسو ته مناسب دی. ۱۹ ای میړونو، د خپلو
ښځو سره مینه کوئ او د هغوی سره بد چلند مه کوئ. ۲۰ ای
اولادونو، په هر کار کې د خپل مور او پلار منونکي اوسئ، ځکه چې
په دې څښتن خوشحالیږي. ۲۱ ای پلرونو، د خپلو اولادونو قهر مه
راپاروئ، هسې نه چې زړونه یې تور شي. ۲۲ ای غلامانو، په
هرڅه کې د خپلو دنیاوي بادارانو تابعداري کوئ، یوازې هغه وخت
نه چې کله هغوی تاسو څاري او تاسو هغوی خوشحاله کوئ، بلکې
د زړه د اخلاصه او د خدای له ویرې د هغوی تابعداري کوئ. ۲۳
تاسو چې هر کار کوئ هغه د زړه له کومې وکړئ، لکه څنګه چې
تاسو یې د څښتن دپاره کوئ، نه د انسان دپاره. ۲۴ ځکه تاسو
پوهیږئ چې څښتن به د دې په اجر کې تاسو ته میراث درکړي او په
دې خاطر تاسو د څښتن مسیح خدمت کوئ. ۲۵ نو بدکاره به د
خپلې بدۍ سزا ویني، ځکه چې خدای د هیچا طرفداري نه کوي.

۴ ۱ ای بادارانو، د خپلو غلامانو سره د عدل او انصاف له مخې
چلند وکړئ، ځکه پوهیږئ چې تاسو هم په اسمان کې یو بادار لرئ.

## حکمونه او لارښوونې

۲ په بیدارۍ او شکرګزارۍ سره په دعا کې ټینګ او ثابت اوسئ.
۳ زمونږ دپاره هم دعا کوئ، ترڅو خدای مونږ ته د خپل پیغام

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره دروازه خلاصه کړي چې د مسیح هغه پټ راز بیان کړو د کوم
په خاطر چې زه بندي یم. ۴ دعا وکړئ، ترڅو زه دغه پیغام لکه
ښکاره چې لازمه ده، په روښانه توګه بیان کړم.

۵ د غیرایمانداراانو سره په هوښیارۍ چلند کوئ او د هرې موقعې
نه ښه ګټه واخلئ. ۶ ستاسو خبرې دې تل د فضل نه ډکې او
خوندورې وي، ترڅو په دې پوه شئ چې هرچا ته سم او مناسب
ځواب ورکړئ.

## وروستني سلامونه

۷ تیخیکاس به تاسو زما د ټولو کړنو څخه خبر کړي. هغه زمونږ
ګران ورور، وفادار خدمتګار او د ښښتن په کار کې زمونږ ملګری
دی. ۸ ما هغه تاسو ته د دې مقصد دپاره درولېږه چې تاسو
زمونږ د حال او احوال نه خبر کړي او ستاسو زړونو ته ډاډګېرنه
درکړي. ۹ د هغه سره اونیسیموس چې زمونږ وفادار او ګران
ورور دی او ستاسو د ډلې څخه دی، درځي. هغوی به تاسو د هغو
ټولو کارونو نه چې دلته کیږي، خبر کړي.

۱۰ ارسترخوس چې زما سره په زندان کې دی، تاسو ته سلام
وایي. همدارنګه مرقوس د برناباس د کاکا زوی هم تاسو ته سلام
وایي. د مرقوس په هکله تاسو ته لارښوونې شوې وې چې که هغه
تاسو ته راغی، نو هرکلی ورته ووایئ. ۱۱ او یسوعه چې د
یوستوس په نوم هم یادیږي، هم درته سلام وایي. د یهودي
ایماندارانو څخه یوازې دا درې کسان دي چې د خدای د پاچاهۍ په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کار کې زما ملګرتيا کوي او هغوی ماته ډېره تسلي راکړې ده. ۱۲
اپفراس چې ستاسو له ډلې څخه دی او د عيسی مسيح خدمتګار دی،
تاسو ته سلام وايي. هغه تل تاسو ته په شوق او د زړه له کومي
دعاګانې کوي، ترڅو تاسو د بالغو خلکو په توګه په ايمان کې ټينګ
ودرېږئ او په کامله توګه د خدای په ارادې پوه شئ. ۱۳ نو زه
شاهدي ورکوم چې هغه ستاسو دپاره او د هغو خلکو دپاره چې په
لايوديکيه او هيراپوليس کې دي، ډېر زحمتونه ويستلي دي. ۱۴
زمونږ ګران ډاکتر لوقا او ديماس هم تاسو ته سلامونه وايي.

۱۵ هغو خويندو او ورونو ته چې په لايوديکيه کې دي او نيمفا او
هغې کليسا ته چې د هغې په کور کې ده، زما سلامونه ووايئ. ۱۶
کله چې تاسو ته دا ليک ولوستل شي، نو بيا يې د لايوديکيې کليسا
ته ولېږئ چې هغوی ته هم ولوستل شي او تاسو ته دې هغه ليک
چې د لايوديکيې کليسا ته ليکل شوی دی، هم ولوستل شي. ۱۷
ارخيپوس ته ووايئ: «پام کوه، کومه وظيفه چې تاته د څښتن د
خدمت دپاره سپارل شوې ده، هغه سرته ورسوه.»

۱۸ زه پولوس په خپل لاس تاسو ته دا سلام ليکم. په ياد مو وي
چې زه لا تراوسه په زندان کې يم. په تاسو دې د خدای فضل وي.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
افغانستان ۲۰۲۳ © afghanbibles.org
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.